# آيا تاسو پوهېږئ چې غیبت څه ته وايي؟ هغو وویل: الله جل جلاله او رسول يې ښه پوهيږي، ویې فرمایل: " په هغه څه سره دې د (مسلمان) ورور يادول چې هغه يې نه خوښوي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «آيا تاسو پوهېږئ چې غیبت څه ته وايي؟ هغو وویل: الله جل جلاله او رسول يې ښه پوهيږي، ویې فرمایل: " په هغه څه سره دې د (مسلمان) ورور يادول چې هغه يې نه خوښوي." وویل شو: پدې اړه خبر راکړه چې: كه چېرته زما په ( مسلمان ) ورور کې هغه څه وي چې زه وايم؟ ویې فرمایل: "که چېرته هغه څه پکې وي چې ته يې وايې نو غیبت دې وکړ او که چېرته پکې نه وي نو تور ( تهمت ) دې پرې پورې کړ».
[صحيح] [مسلم روايت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د حرام غیبت حقیقت بیانوي، چې هغه پسې شا د مسلمان يادول دي په هغه څه سره چې هغه يې نه خوښوي، برابره خبره ده که ځاني صفتونه وي او یا اخلاقي لکه: وړوند، دوکه باز، دروغجن او داسې نور ناوړه صفتونه، اګر که دا صفت پکې موجود هم وي. او که چېرته پکې هغه صفت نه و، نو دا له غیبت نه هم سخته ( ګناه ) ده چې هغه تور پورې کول دي، یعنې په یو چا د یو کار دروغ ویل چې په هغه کې نه وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5326

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee